اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

دا مضمون ''نیکی کی دعوت '' صفحه 216 تا 233 نه اخستے شوے دے۔

# لکونه نیکۍ او لکونه ګناهونه

دعائے عطار: یاربِ المُصطفٰي! چې خوک هم دا رِساله ''لکونه نیکۍ او لکونه ګناهونه'' اولولي یا ئې واورِي، هغه د عِلم و تقویٰ پیکر جوړ کړې او د هغه نه همیشه همیشه د پاره راضي شې۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې په شپه او ورځ کښې زما طرف ته د شوق او مَحبَّت په وجه درې درې ځله دُرُود شریف اُووئیلو په الله پاک باندې حق دے چې هغه د هغه د هغه ورځې او هغه شپې ګناهونه معاف کړي. (معجم کبیر، 18/362، حدیث:928)

پڑھتے رہو دُرود و سلام بھائیو! مُدام | فضلِ خدا سے دونوں جہاں کے بنیں گے کام
صَلُّوا عَلَی الْحَبِيْب | صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نیکۍ دعوت ډیر خوندور عِبادت دے

د نیکۍ دعوت ورکولو کښې کله هم سُستي کول نه دي پکار، که دا مَدَني کار په اِخلاص د اللهتعالیٰ د رضا د پاره اوکړے شي نو بیشکه ډیر خوندور عبادت دے. چنانچه د اِمیرُ المُومِنین حضرت سَیِّدُنا عُثمانِ غني رضی اللہ تعالٰی عنہ ارشاد دے: ما د عِبادت خوند په څلورو څیزونو کښې اوموندلو: (1) د الله تعالیٰ د فرائِضو په ادا کولو کښې (2) د الله تعالیٰ حرام کړے شوي څیزونو نه په بچ کیدو کښې (3) د الله تعالیٰ د رضا د حاصلولو په غَرَض د نیکۍ د حُکم ورکولو کښې

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! د دې **حِکايت** نه معلومه شوه چې سَیِّدُنا جُنید بَغدادي رَحمۃُ اللہ تعالٰی علیہ روشن ضمِير پير وو، **الله** تعالیٰ هغوئي ته د ډير لرې نظر عطا کړے وو، ځکه خو هغوئي په **بصره شرِيف** کښې موجود د خپل مُريد د زړه حالت معلوم کړو، د هغه **تور مخ** ئې هم وليدو او د لرې نه ئې د باطِني توجُّه کولو په ذريعه د مُرِيد د مخ توروالے هم اُووِينځلو! د دې **حِکايت** نه دا درس هم حاصِل شو چې د کامِل پير په بَرَکت انسان د ګناهونو نه بچ اوسي او که څه خطا ترينه وشي نو هُم بِإِذۡنِ اللهِ تَعَالٰى د پـير و مُرشِد د تَوَجُّه په سبَب به د هغې مخ نيوے (يعني د اِصلاح اسباب) هم وشي لِهٰذا ضرور د يو پيرِ کامِل مُريد جوړيدل پکار دي او دا هم معلومه شوه چې د **الله** تعالیٰ د ياد لرلو په وجه په مخ باندې د نُورانِيّت يوه خاص نُور ښکاري او د ګناهونو کولو په وجه زړه هم تور شي او مخ هم سپيره شي.

تِرے ہاتھ میں ہاتھ میں نے دیا ہے — تِرے ہاتھ ہے لاج یا غوثِ اعظم
مریدوں کو خطرہ نہیں بحرِ غم سے — کہ بیڑے کے ہیں ناخدا غوثِ اعظم
نکالا تھا پہلے تو ڈوبے ہوؤں کو
اور اب ڈوبتوں کو بچا غوثِ اعظم

(ذوقِ نعت)

ستا په لاس کښې مې درکړے دے خپل لاس — ستا په لاس کښې مې عِزّت دے يا غوثِ اعظم
خطره نشته مُريدانو ته د غم له دريابه — د بيړۍ دے چلوونکے زما غوثِ اعظم
چې ډوب شوي راوِيستلي وو مخکښې تاسو — ډوبيدونکي هم کړۀ بچ يا غوثِ اعظم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اوښ چې کله د مرې شو

د يو جامِع شرائِط پيرِ کامِل په مُريد جوړيدلو کښې او ځان د چا کولو کښې ډيرې فائِدے دي چنانچه د **مُحَقِّق عَلَى الۡاِطلاق، خَاتِمُ الۡمُحَدِّثِين**، حضرت علّامه **شَيخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي**

رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د اولِياءِ کرام رَحِمَهُمُ اللهُ السَّلَام په سِيرت باندې مُشتمِل کتابِ مُستَطَاب ”اَخْبَارُ الْاَخْيَار“ کښې د حضرت سَيِّدُنا شَيخ حُسّامُ الدِّين رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په حالاتو کښې بيان شوي د دوه خوندور خيالي حِکاياتو په ذريعه د پيرِ کامِل په ذريعه مُرِيد ته رسيدونکو فائدو باندې ځان پوهه کولے شئ. چنانچه فرمائي: يوے مرېې يو اوبښ په ځنګل کښې په خريدلو وليدو نو ورته ئې ووئيل: اے اوبنه د چا شه: اوبښ جواب ورکړو: ”زه ستا شوم.“ يوه ورځ اوبښ د يوے ونې شنې شنې پاڼرې خوړلې چې د هغه پيزوان (يعني د پوزې پړے) د وَنې په يو خاخ کښې ډير سخت ونښتو، اوبښ په ځان راخلاصولو کښې ناکامه شو نو هغه په ډې سخته کښې مرېې ته آواز وکړو! هغه مرېې د ځان سره نورې مرېې هم راوستلې، ټولو په شريکه په وَنه کښې نښتې رسۍ په غاښونو وشوکوله، او دغسې اوبښ راخلاص شو. (اخبارُ الْاَخْيَار ص177)

## چيندخه ئې چې وليده نو وتښتيدو

خوږو خوږو اِسلامي وروڼړو! د دې خيالي حِکايت په ذريعه په ډير ښکُلي انداز کښې په دې خبره باندې د پوهه کولو کوشش شوے دے چې د آزاد اوسيدو په ځائے ”د چا جوړ شئ“ ځکه چې خوك د يو پيرِ کامِل [مُريد] شي نو په مُشکِل وخت کښې د پيرِ کامِل په بَرَکت خلاصے مومي. په دې باره کښې يو بل **خوندور حِکايت** واورئ: په يو مجلِس کښې يو څو ګسان جمع وو، ناڅاپه يوه چيندخه په ټوپونو را ووتله، د هغې په ليدَلو يو هوښيار سړے د هغه ځائے نه وتښتيدو. خلقو (هغه يريدونکے اوګنړلو او) وريورې ئې اوخندل. چې کله د هغه نه دا تپوس اوکړے شو چې ته ولے د چيندخې نه اُويَريدې؟ نو هغه هوښيار سړي اُووئيل چې زه د چيندخې نه نه يريږم، اَلبَتَّه د دې خبرې نه يَريږم چې په هغې پسې چرې **مار** نه وي راروان! هم دغسې که يو درويش پخپله کمزورے وي خو د هغه سلسله ډيره زياته مضبوطه وي نو د هغه نه ويره پکار ده ځکه چې د هغه په زړه ازاروَلو به د هغه د سلسلے د ټولو بزرګانو زړونه ازاريږي او هغوئي به خفه شي. (اخبارُ الْاَخْيَار ص176)

## د مُرِید ملا مضبوطه شي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! مار چیندخه خوري ځکه هغه هوښیار سړي چې چیندخه ولیدله نو وتښتیدو چې هسې نه د دې په ښکار کولو پسې وروسته مار راروان وي او ما وچیچي. د دې مثال ورکولو نه پس حضرت سَیِّدُنا شَیخْ حُسَامُ الدِّین رحمۃُاللہِ تعالٰی علیہ د کمزوري مُرشِد او د هغه د قوي پیرانو مِثال ورکړے دے نو واقعي چې څوك د یو پیرِ کامِل مُرید شي د هغه "ملا مضبوطه" شي، ولے چې که د هغه خپل پیر "کمزورے" وي نو خیر دے! د هغه د پیر پیر یا بیا د هغه پیر خو به مضبوط وي او دغسې به د دُنیا او د آخِرت ښیګړې په لاس ورشي. د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د 504 صفحو کتاب "مَلفُوظاتِ اَعلٰی حضرت" صفحه 260 نه 263 پورې بعضې خوندور او معلوماتي عرض و ارشاد [سوال و جواب] وړاندې کیږي واورئ او ایمان تازه کړئ:

## د بَیعَت معنٰی

عرض: د بَیعَت څه معنٰی ده؟

اِرشاد: د بَیعَت معنٰی ده "خرڅیدل."

## د مرګ د سزا په وخت کښې د مُرِید د خپل پیر سره عقِیدَت

(اعلٰی حضرت رحمۃُاللہِ تعالٰی علیہ فرمائي) په سَبعِ سَنابِل شریف کښې دي: بادشاه د یو صاحِب د مرګ د سزا حُکم ورکړو. جَلّاد توره را اُووِیستله، هغه د خپل شیخ [یعني پیر] د مزار طرف ته مخ کړے اُودریدو، جَلّاد ورته اُووئیل: په دې وخت کښې خلق قبلے ته مخ کوي. هغوئي اُوفرمائیل: "ته خپل کار وکړه ما قبلے ته مخ کړے دے." او خبره هم داسې ده چې کعبه د بدن قِبله ده او شیخ [یعني پیر] د رُوح قِبله ده. دې ته وائي اِرادت (یعني مُریدي)! که څوك هم دغه شان د زړه په عقیدت یوه دروازه ونیسي نو هغه ته به فیض [یعني برکت] ضرور رسي. که د هغه

شيخ خالي وي نو د شيخ شيخ خو به خالي نه وي او فرض کړه هغه هم نه، نو حضور غوثِ اعظم رحمۃُاللہِ تعالٰی علیہ مَعدنِ فيض (يعني د بَرَکتونو خزانه) او منبَعِ انوار دے (يعني د انوارو چينه ده) د هغوئي نه به فيض [يعني بَرَکت] راځي. بس سلسله صحيح او مُتَّصِل (يعني لګيدلي) پکار ده.

## دُکان به دِ په بل مخ واړووم

په دې باره کښې د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ تعالٰی علیہ فرمائيلے شوے يو حِکايت په خپل انداز کښې عرض کووم چې يو فقير يو دُکان ته راغے او وئې وئيل: يوه روپۍ راکړه! دُکاندار اِنکار وکړو، فقير اُووئيل:که روپۍ راکوے نو راکړه ګني دُکان به درله په بل مخ واړووم، خلق راجمع شو، اِتّفاقاً يو روشن ضمير بزرګ په هغه طرف راغلو، هغوئي دُکاندار ته اُوفرمائيل: ده ته په منډه روپۍ ورکړه ګني دُکان به دِ په بل مخ واوړي، ځکه چې ما د دې فقير په باطِن نظر واچولو چې څه پکښې شته او که نه! خو معلومه شوه چې دا بالکل ”خالي“ دے، بيا مې د ده پير ته وکتل هغه هم بالکل خالي وو، بيا مې د ده د پير پير ته وکتل نو هغه په اَهلُ الله [يعني الله والؤ] کښې شامِل دے او اُومې ليدلو چې هغه په انتِظار کښې ولاړ وو چې کله د ده د ژبې نه اُوځي او زه دُکان په بل مخ واړووم. دا حِکايت بيانولو نه پس اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ تعالٰی علیہ اُوفرمائيل چې هغه فقير د خپل پير لمَن کلکه نيولې وه.

## د قِيامته پورې راتلونکي مُريدان

ائِمَّهٔ دِين (رحمھم اللہ المبین) فرمائي: چې د حضور غوثِ اعظم رحمۃُاللہِ تعالٰی علیہ په دفتر (يعني رِجِسټر) کښې د قِيامته پورې دَ مُريدانو نومونه ليکلي شوي دي چې څومره په غُلامۍ کښې دي يا راتلونکي دي. حُضُورِ پرنُور (غوثِ اعظم) رحمۃُاللہِ تعالٰی علیہ فرمائي: **ربّ تعالٰی** ما ته يو دفتر (يعني رِجِسټر) عطا کړو هغه د نظر د حده پورې (يعني د کوم ځائے پورې چې نظر رسيدے شي) وسيع [فراخه] وو او په هغې کښې تر قيامته پورې زما د ټولو مُريدانو نومونه وو او ما ته

ئي اُوفرمائيل: "قَدْوُهِبُوالَكَ (يعني) دا ټول تا ته اؤوبخښلے شو (يعني درکړے شُو)." (بَهجَةُالاسرار ص193)

## يو اِشکال او د هغې جواب

عرض: حُضُور دا خو په زور روپۍ اغستل شو. هغه وَلِیُّ الله که د هغه د دُکان د بچ کولو د پاره د روپۍ ورکولو تاکيد فرمائيلے وو، نو کيدے شي چې داسې، لکه څنګه چې د ظُلم نه د بچ کيدو د پاره رشوت ورکول وي خو د هغه فقير د برې پيرۍ پير صاحِب چې په اَهلُ الله کښې شامِل وو، هغوئې د دې ظُلم مَلګرتيا څنګه روا وګڼړله؟

اِرشاد: د شريعَتِ مُطَهَّره دوه حُکمونه دي: ظاهِر او باطِن، قاضي او عام خلق، هغوئې صرف په ظاهرو حالاتو پوهيږي او په هغوئې باندې د دې پابندي لازِمه ده اګرچه د هغه حال په حقيقت باندې د پوهيدونکو په نِزد د هغې حُکم بِالعَکس [يعني بالکل بدل] وي.

## د قتل حيرانوونکي مُقَدَّمه

(نور ئې وفرمائيل) د دې نظير (يعني مِثال) د سَيِّدُنا داؤد عَلَيهِالسَّلَام په زمانه کښې تير شوے دے. يو فقير مُفلِس، بے اَسره، د ماښام د ډوډۍ مُحتاجه به د شپې دُعا کوله "اِلٰهِي رِزقِ حلال راکړې." اِتِّفاقاً يوه شپه يوه غوا د هغه کور ته را ننوتله، هغه دا سوچ وکړو چې زما دُعا قبوله شوه او دا رِزقِ حلال ما ته غيبانه راکړے شوے دے، غوا ئې راځملوله او حلاله ئې کړه، د هغې غوښه ئې پخه کړه او اوئې خوړله. سحر د هغې مالِك خبر شو، هغه په بارګاهِ نُبُوّت (عَلَيهِالصَّلوٰةُ وَالسَّلَام) کښې فرياد وکړو. ورته ئې وفرمائيل:"پريږده! ته مالدار ئې که هغه غريب يوه غوا حلاله کړه نو څه وشو؟" هغه خفه شو او اوئې وئيل: يا نَبِيَّ الله! زه حق غواړم. اوئې فرمائيل:که حق غواړې نو غوا د هغه وه. هغه نور خفه شو. نو ورته ئې وفرمائيل صِرف دا غوا نه بلکه څومره مال چې ستا سره دے هغه ټول د هغه دے. هغه نور زيات فرياد وکړو نو اوئې فرمائيل: ته هم د هغه مال ئې او د هغه غُلام ئې. په دې خو هغه بے حده خفه شو. [سَيِّدُنا داؤد عَلَيهِالسَّلَام] وفرمائيل:

که تصدیق غواړې نو زما سره اوس لاړ شه. هغه فقیر او هغه د غوا دعوی لرونکے ئې د ځان سره کړل او ځنګل ته ئې تشریف یوړلو. واقِعه عجیبه وه، ګنړ خلق ورسره لاړل. حُکم ئې وکړو چې د دې وَنې نه لاندې ځائے اوکنئ. چې اوئې کنستلو نو د انسان سر او یو خنجر چې په هغې باندې د قتل کړې شوې کس نوم لیکلے شوے وو، را وختل. نَبِیُّ الله (عَلَیْهِ السَّلَام) هغه وَنې ته ارشاد اُوفرمائیلو: شهادت (یعنې ګواهي) ورکړه تا څه لیدلي وو؟ وَنې عرض وکړو یا نَبِیَّ الله! (عَلَیْهِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) دا د دې فقیر د پلار سر دے، دا د غوا والا د هغه غلام وو. ده (یعنې د غوا والا) موقع اوموندله او زما نه لاندې ئې خپل آقا [یعنې مالِك] هم د هغه په خنجر حلال کړو او په زمکه کښې ئې سره د خنجره خخ کړو او د هغه په ټول مال ئې قبضه وکړه. د هغه دا ځوئ ډیر وړوکے وو، چې کله په بنه بَد پوهه شو نو په غریبۍ او بے وَسۍ کښې اخته وو او دا هم ورته نه وه معلومه چې د ده پلار څوك وو او د هغه څه مال وغیره هم وو او که نه؟ حُکمِ باطِن [پټ حُکم] ثابِت شو، د غُلام (یعنې د غوا والا چې د فقِیر د پلار قاتِل وو) سر پریك کړے شو (یعنې قتل کړے شو) او هغه ټول مالونه (کوم چې د غوا والا په قبضه کښې وو) فقیر ته په میراث کښې ورکړے شو. (مثنوی شریف دفترِ سوم صفحه 224 نه 242 پورې)

(اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حِکایت بیانولو نه پس فرمائي) دغسې دلته هم کیدے شي چې دُکاندار د دې فقیر د مُورِث (یعنې د چا چې دا فقیر وارِث دے) مَدیُون (قرضدار) وو، اګرچه دا فقیر د هغې نه خبر هم نه وي او نه دا دُکاندار هغه پیژني نو دا په زور د فقیر د پاره اغستل زیاتے نه دے بلکه حَقّ بَحَقّ دار رَسانِیدَن (یعنې حق په حقدار سپارل دي).

هر ہر ذرّہ ہر قطرہ شاہد ہے ہر ہر لمحہ
اس کی قدرت و صنعت کا یکتائی و وحدت کا

(سامانِ بخشش شریف)

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ط اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ الله

هر يو خاځکے هره يو ذرّه ګواه ده هره يوه لحظه
د هغه د قُدرت او صَنعَت د يو والي او وَحدت
لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط اٰمَنّا بِرَسُولِ اللّٰه

## څوك د نيكۍ كوونكي په شان دے؟

سرکارِ نامدار، باِذنِ پروردګارد دوارِوجهانو مالِك و مُختار، شَهَنشاهِ اَبرار صَلَّی اللّٰہ تعالٰی عَلَیہِ واٰلِہٖ وسلَّم فرمائي: اِنَّ الدَّالَّ عَلَى الْخَيْرِ كَفَاعِلِه يعني بيشكه د نيكۍ لار ښودونكے د نيكۍ كوونكي په شان دے. (تِرمِذِی ج4 ص305 حدیث2679) مشهور مُفَسِّرِ قرآن حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحمَۃُ اللّٰہ تعالٰی عَلَیہ فرمائي: يعني نيكي كوونكے، بل ته د نيكۍ حُكم كوونكے، ښودونكے (او) مشوره وركوونكے ټول د ثواب حقدار دي. (مِراٰۃُ المَناجیح ج1 ص194)

سُبحٰنَ الله! د "نيكۍ د دعوت" په مَدَني كار كښې د ښو ښو نِيَّتونو سره په جائِزه طريقه مرسته كوونكے هم د اجر و ثواب حقدار وي. په دې كښې په دې حُكمِ قُرآني هم د عمل كولو نِيّت كيدے شي څنګه چې د شپږمې سِيپارے د سُوْرَةُ الْمَآئِدَه په دويم آيت كښې اِرشاد دے:

وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۠ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۠

مفهوم ترجمهٔ کنزُالإیمان: او په نيكۍ او پرهيزګارۍ كښې د يو بل مدد اوكړئ او په ګناه او زياتي كښې د يو بل مدد مه كوئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ټولو عَمَل كوونكو په شان ثواب

د سَيِّدُ الْمُرسَلِين، خَاتَمُ النَّبِيّين، جنابِ رَحمَةٌ لِّلعٰلَمِين صَلَّی اللّٰہ تعالٰی عَلَیہِ واٰلِہٖ وسلَّم مبارك فرمان دے: څوك چې هِدايت طرف ته بلَل اوكړي د هغه د ټولو عامِلينو (عَمَل كوونكو) په شان ثواب كيږي او په دې به د هغوئ په خپل ثواب كښې هيڅ كمے نه كيږي. او څوك چې ګُمراهۍ

طرف ته بلَل اوکړي نو هغه ته به د ټولو [بَد] عَمَل کوونکو گمراهانو همره گناه رسي او دے به د هغوئي د گناهونو نه هيڅ کم نه کړي. (مُسلِم ص1438 حديث2674)

## په لکونو نیکئ او په لکونو بدئ

مشهور **مُفَسِّر حَکِيمُ الْاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ فرمائي: دا حُکم (عام دے يعني) **نبي** صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم او د هغوئي په خاطِر ټولو **صحابه، اَئِمّهٔ مُجتَهِدين، عُلَمائے مُتَقَدِّمين و مُتَاَخِّرِين** ټولو ته شامِل دے مَثَلًا که د چا په تبلِيغ يو لاك کسان لمُونځ گُزاره جوړ شي نو د هغه مُبَلِّغ به هر وخت د يو لاك لمُونځونو ثواب کيږي او د هغه لمُونځ گُزارو به د خپل خپل لمُونځ ثواب کيږي، د دې نه معلومه شوه چې د حُضُور (صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم) د ثواب اندازه مخلوق نه شي کولے. **رَبّ** (تعالٰی) فرمائي:

وَ اِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍۚ﴿۳﴾ (مفهوم ترجمهٔ کنزُالایمان: او ضرور تا لره نه ختميدونکے ثواب دے) هم دغسي هغه ليکونکي د چا د کتابونو نه چې خلق هِدايت مومي تر قيامته پورې به د لکونو خلقو ثواب هغوئي ته ورزوان وي، دا حديث د دې آيت خِلاف نه دے: لَيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى ﴿۳۹﴾ (مفهوم ترجمهٔ کنزُالایمان: انسان به نه مومي مگر خپل کوشش) ځکه چې دا د ثوابونو زيات والے د هغه د عَمَلِ تبلِيغ نتيجه ده. نور فرمائي: په دې کښې د گمراهيانو مُوجِّدِين مُبَلِّغِين (يعني گُمراهئ ايجاد کوونکي او گُمراهي نورو ته رَسَوونکي) ټول شامِل دي تر قِيامته پورې به هغوئي ته په لکونو گناهونه رسي. (مِراٰۃُالمَناجيح ج1 ص160)

## د "نيك" جوړَولو مشين جوړ شئ

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د نيکو حريص [يعني حِرص لرونکي] جوړ شئ، خلق د لمُونځ گزاره جوړَولو کار ښه ډير تيز کړئ، چې کله هم د جَمعې د لمُونځ د پاره جُمات ته ځئ نو نورو خلقو ته هم ترغِيب ورکوئ او د ځان سره ئې بوځئ، چا ته چې لمُونځ نه ورځي هغوئي ته

لمُونځ زده کوئ، که ستاسو په وجه يو کس هم لمُونځ ګُزاره جوړ شو نو چې تر څو پورې هغه لمُونځونو کوي د هغه د هر يو لمُونځ ثواب به تاسو ته هم در رسي. عام طور د ماسخُتن د لمانځه نه وروسته زيات و کم 40 مِنټه چليدونکو د دعوتِ اسلامي په مَدرَسَةُالمَدِينه (بالِغان) کښې داخِله واخلئ، په هغې کښې پخپله هم قُرآنِ کريم زده کړئ او نورو ته ئې هم زده کوئ. تاسو نه زده کونکے چې کله هم تِلاوت کوي نو ستاسو به هم د تِلاوت کولو ثواب کيږي. تاسو پخپله هم په سُنّتو عمل کوئ او نور هم په عمل کولو راضي کړئ. که تاسو چا ته يو سُنّت ياد کړو نو چې هغه کله هم په هغه سُنّت عمل کوي نو ستاسو به هم په هغه سُنّت د عمل کوونکي په شان ثواب کيږي. د نيکۍ د دعوت د علاقائي دورے او په مَدَني قافِلو کښې د سُنّتو ډك سفر په ذريعه د خپل ځان او د نورو خلقو د اِصلاح مضبوط مُهِم وچلوئ او ځان د مسلمانانو نيك جوړوونکے "مشين جوړ کړئ، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی د ثواب انبارونه به مو جوړ شي او په دواړو جهانو کښې به مو بيړئ پوريوځي.

تیرے کرم سے اے کریم! مجھے کون سی شے ملی نہیں

جھولی ہی میری تنگ ہے تیرے یہاں کمی نہیں

ستا په فَضل زما ربّه! ما ته هر شے رانصيب دے

ځولۍ زما وړه ده ستا په در کښې کمے نشته

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په هره خبره د يو کال د عِبادت ثواب او ...

چې کله يو مسلمان د نيکۍ دعوت ورکوي نو د الله تعالٰی رَحمت په جوش کښې راځي. چنانچه حُجَّةُ الۡاِسۡلام حضرت سَيِّدُنا اِمام ابو حامِد مُحمّد بن مُحمّد غزالي رَحۡمَةُ اللهِ تَعالٰی عَلَيه فرمائي: يو ځل حضرت سَيِّدُنا مُوسٰی کَلِيمُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام په بارګاهِ خُداوندي عَزَّوَجَلَّ کښې عرض وکړو: يا الله عَزَّوَجَلَّ! څوك چې خپل ورور ته د نيکۍ حُکم اوکړي او د بدو نه ئې منع کړي. د هغه جزا څه

ده [يعني څه ثواب دے]. الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی ارشاد وفرمائيلو: زه د هغه د هرې خبرې په بدله کښې د يو يو کال د عِبادت ثواب ليکم او هغه ته د جَهَنّم سزا ورکولو کښې ما ته حيا راځي. (مُکَاشَفَةُ القُلُوب ص48)

## د نيکو ډيرے

سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! که تاسو چا ته د نيکۍ دعوت ورکوئ نو د يوے يوے کلمے (يعني خبرې) په بدله کښې به د يو يو کال ثواب ګټئ، بِالفرض! تاسو يوه ورځ په جُمات کښې صِرف يو اِسلامي ورور ته د "فيضانِ سُنّت درس" ورکړو او په هغې کښې مو دوه صفحات ولوستل، که په هغې کښې شل خبرې د نيکۍ او خير بيان شوې نو درس اوريدونکے هغه اسلامي ورور که په هغې عمل اوکړي او که نه ستاسو په اعمال نامه کښې به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د شلو کالو د عِبادت ثواب وليکل شي او که ستاسو د درس په اوريدو هغه اسلامي ورور عمل کول شروع کړو نو چې هغه تر څو پورې عمل کوي ستاسو به هم د هغه عمل کوونکي همره ثواب کيږي او که هغه ستاسو په درس کښې زده کړے يو سُنّت بل ته ورسولو نو د هغې ثواب به هغه رَسَوونکي ته هم رسي او تاسو ته هم. دغسې به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ستاسو ثواب ورځ په ورځ زياتيږي. د نيکۍ د دعوت په آخرت کښې په لاس راتلونکے ثواب که بنده په دُنيا کښې اُووِيني نو يو ساعت به بيکاره نه ضائِع کوي، هر وخت به د نيکۍ د دعوت په خوررولو کښې مصروف اوسي.

مىں نیکی کی دعوت کی دُھوم مچاؤں | تو کر ایسا جذبہ عطا یاالٰہی

د نيکۍ دعوت چې خور کړم په هر ځائے کښې | جذبه داسې را ته راکړې يا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د درس ورکولو ثواب

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! بيشکه د فيضانِ سُنَّت نه درس ورکول هم "د نيکۍ د دعوت" يوه ذريعه ده. لِهٰذا هِمَّت اوکړئ، د شيطان نه ځان خلاص کړئ، سُستي لرې کړئ او هره ورځ

کم نه کم "دوه درسونه" ضرور ورکوئ. جُمات درس، چوك درس، بازار درس وغيره کښې کم نه کم د يو درس ترکيب جوړوئ او په مُقَرَّر کړي وخت ضرور ضرور د کور درس په ذريعه هم ډير ډير د سُنّتو مَدَني ګلونه تقسيموئ او په دلو دلو ثوابونه ګټئ. په دې باره کښې دوه احاديثِ مبارکه واورئ او خوشحاله شئ: **فرمانِ مُصطَفٰی** صلّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلّم: څوك چې زما اُمَّت ته يوه اِسلامي خبره ورسوي چې د هغې په ذريعه سُنّت قايم کړے شي يا د هغې په ذريعه بدمذهبي لرې کړے شي هغه جَنّتي دے. (حِلْيَةُ الاَولِياء ج10 ص45 حديث14466) **دُعائے مُصطَفٰی** صلّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلّم "**الله** تعالٰی دِ هغه تر و تازه لرې څوك چې زما حديث واوري، ياد ئې اوساتي او نورو ته ئې اورسوي." (سُنَنِ تِرمِذی ج4 ص298 حديث2665)

## د درس بَرَکت

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! راځئ چې تاسو ته د **فيضانِ سُنَّت** د درس د **جذبې** زياتولو د پاره يو مَدَني سپرلے واوروو چنانچه د **بابُ المَدِينه** (کراچۍ) اوسيدونکي يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده: د 1410ھ بمطابِق 1990ء خبره ده چې ما به په مرکزُ الاولياء (لاهور) کښې په يو ځائے کښې نوکري کوله. په هُم هغه دوران کښې د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره تعلق لرونکے يو اسلامي ورور هم هلته نوکر شو. يوه ورځ ما هغوئي ته اُووئيل چې ما ته يو داسې کتاب وښائے چې د هغې په لوستلو په اسلامي طرز ژوند تيرول کيدے شي. هغوئي ووئيل چې تاسو د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** "**فيضانِ سُنّت**" هديه کړئ. خبره وشوه او تيره شوه. د ژوند ورځې په تيزرفتارۍ سره تيريدلې، د شپو او ورځو د تيريدو نه بے پروا ما د معمول مطابق خپل ژوند تيرولو او د دُنياوي مشغلو په وجه مې هغه کتاب هديه نه کړے شو. څه موده پس د خدائے کړو ته ګورئ چې زه مُستقل طور **بابُ** المَدِينه (کراچۍ) ته مُنتقِل شوم. يوه ورځ د ماښام د لمانځه د پاره يو جُمات ته لاړم نو ما وليدو چې يو اِسلامي ورور سپينې

جامې اغوستي وې او د شني شني عِمامې تاج ئې په سر کړے وو او د يو کتاب نه ئې درس ورکولو او ډير اسلامي ورونړه په درس اوريدو کښې مصروفه وو. زه هم په هغه درس کښې کښيناستم، چې کله زما نظر په هغه کتاب پريوتو نو په هغې "فيضانِ سُنّت" ليکلے شوے وو، چې ما وليدو نو د تير وخت په سوچ کښې ورك شوم او فِکر له مې دا خبره راغله چې دا خو هم هغه کتاب دے د کوم کتاب د هديه کولو چې ما ته په مرکزُ الاولياء (لاهور) کښې فلانکي اسلامي ورور مشوره راکړې وه. د درس نه پس ما د اسلامي ورونړو سره ملاقات وکړو او هغوئي نه مې "فيضانِ سُنَّت" د لوستلو د پاره اوغوښتو، هغوئي راکړو. د هغې د لوستلو سره زما په زړه کښې په سُنَّتو باندې د عمل کولو جذبه پيدا شوه او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ په قلاره د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې شامِل شوم او په سُنَّتو مې د عمل کولو د پاره ملا وتړله. او زما سره سره زما درې ورونړه هم اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې شامل شو.

نہ نیکی کی دعوت میں سُستی ہو مجھ سے  بنا شائقِ قافلہ یاالٰہی
سعادت ملے درسِ فیضانِ سنَّت کی  روزانہ دو مرتبہ یاالٰہی

د نيکۍ په دعوت کښې زما لرې سستي کړه  جوړ کړه ما شوقينِ قافله يا اِلٰهی
راکړې سعادت د درسِ فيضانِ سُنَّت  هره ورځ ما ته دوه ځله يا اِلٰهی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب!  صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد